PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي یاست چي پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

ای پیغمبره! د خپل رب د لیارې په لور په حکمت او نیک اسلوب بلنه وکړه. او په خورا نیکه او غوره توگه ورته خپل هدف وراندی کړه. خکه چي ستا رب ته ښه معلوم دی چي څوک دهغه له لیارې نه اووښتي او څوک په سمه روان دی
(النحل: ۱۲۵)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت. پنځم کال، ۳۸ مه گڼه، پرله پسې ۲۳۷ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د سلواغي ۸ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الاول ۲۷ مه د۲۰۱۴ م د جنوری ۲۸ مه

سرتاج عزیز:

له امریکا سره د افغانستان په باب موافقې ته رسېدلي یو

«امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو تر وتلو وروسته د پاکستان پر ارزښت پوهه شوې ده» (سرتاج عزیز)



پاکستان، رسنۍ:
د ملي امنیت او نړیوالو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر نوازشریف سلاکار، سرتاج عزیز وېلي، چې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته امریکا د پاکستان پر ارزښت پوهه شوې ده. بنا پر دې دواړو هېوادونو د باور جوړونې هڅې پیل کړې دي.
سرتاج عزیز تېره ورځ له رادیو پاکستان سره په خبرو کې وویل: امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو تر وتلو وروسته د پاکستان پر ارزښت پوهه شوې ده.
ده زیاته کړه: واشنگټن او اسلام‌اباد د افغانستان د راتلونکي په باب پر باور جوړونې بوخت دي او په زیاتو برخو کې موافقو ته رسېدلي هم دي.
همدا راز په امریکا کې د پاکستان پخواني سفیر، شاهد عزیز رسنیو ته ویلي، چې امریکایي چارواکي پر دې ښه پوهېږي، چې له پاکستان سره اړیکې ... (۴ مخ)

دادرس:

از میان ۸۸ زندانی ۳۷ تن شان از زندان بگرام آزاد می شوند

کابل، رسانه ها:
با وجود مخالفتهای مقامات امریکایی با آزادی ۸۸ زندانی از زندان بگرام، کمیتهء رسیده گی به دوسیه های زندانیان بگرام بر رهایی ۳۷ تن از این زندانیان فیصله کرده است.
عبدالشکور دادرس یک عضو این کمیته به روز دوشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که از میان ۸۸ زندانی در باره ۴۵ تن آنان ارگان های کشفی افغانستان هم مدارک جرمی را بدست نیاورده اند.
آقای دادرس می گوید که دو روز قبل تصمیم رهایی ۳۷ تن از این زندانیان گرفته شده که پس از تکمیل مراحل اداری از قید آزاد خواهند شد: " قبل از این هم ما گفته بودیم که دوسیه های ۸۸زندانی... (ص ۴)

نیویارک ټایمز:

که امریکا له افغانستانه ووځي د بې پیلوټه الوتکو اډې له لاسه ورکوي

امریکا، رسنۍ:
نیویارک ټایمز ورځپاڼې په خپل یوه خپاره کړې مطلب کې ویلي چې که امریکا خپل پوځ له افغانستانه وباسي نو هغه اډې به بې له لاسه ووځي چې د بې پیلوټه الوتکو په مټ د دېورنډ له کرښې هاغاړې تروروستي ډلې په نښه کوي.
ورځپاڼې د امریکایي چارواکو له قوله داالدبښه هم ... (۴ مخ)

حقجـو:

امضای توافقنامه امنیتی برای جلب سرمایه گذاری ها مهم است

کابل، رسانه ها:
اتاق تجارت و صنایع افغانستان می گوید امضای توافقنامه امنیتي و دفاعي با امریکا به جلب سرمایه گذاری ها در کشور مهم است.
اتاق تجارت و صنایع افغانستان می گوید که رییس جمهور کرزی در ارتباط به امضای توافقنامه امنیتي و دفاعی با امریکا به آنان پاسخ مثبت نداده است.
مسوولان در این اتاق می گویند، در دیداری که آنان به روز شنبه با رییس جمهور کرزی داشتند از وی خواستند که این توافقنامه را امضا کند.
اما به گفته آنان پاسخ رییس جمهور در این خصوص ... (ص ۴)

بالآخره، راه حل کدام است؟

فدا محمد فایض

زمان در گردش است، تنها یک حادثه نیست که ما از سر آن عبور کنیم؛ بلکه ما با حوادث گوناگونی مواجه شدنی هستیم و وضع موجوده هم با این حالت پریشانی که داریم با این زودی پایان نخواهد رسید، فلهذا راه درکار است و نقشه یی در کار است که ما را ازین گرداب حوادث با سلامتی بکشد. این مسؤولیت تنها یک فرد نیست و مسؤولیت یک گروه هم نیست فلهذا همهٔ آنانی که در برابر این وضع نابسامان کشور احساس مسؤولیت میکنند در پی طرحي برآیند که تمام ملت را بر سر یک سفره بنشاند، و در مورد قضایای ملی تصمیم همگانی بگیرد. (ص ۲)

وزیري:

د امنیتي ځواکونو د موټرو د خوندیتوب لپاره نوي تدابیر نیول شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان ملي دفاع وزارت وايي، په ښارونو کې له انتحاري حملو او چاودنو څخه د امنیتي ځواکونو د سرلي موټرو د خوندیتوب لپاره یې نوي تدابیر تر لاس لاندې نیولي دي.
دفاع وزارت په داسې حال کې دا تدابیر نیسي چې په تېرو شاوخوا دوو کې په کابل ښار کې دوه خلي د افغان ځواکونو د عملیاتي موټر انتحاري حملې وشوې. (۴ مخ)

پیام تسلیت شورای اجرائیه حزب اسلامی ولایت کندز

با تأسف اطلاع حاصل نمودیم که قبله گاه محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان از دارالفناء به دارالبقاء پیوست.

((انا لله و انا الیه راجعون))

شورای اجرائیه حزب اسلامی ولایت کندز برای مرحوم مغفرت و جنت الفردوس و برای بازماندگان شان صبر جمیل و اجر عظیم از بارگاه ایزد متعال استدعا می‌نماید. (روحش شاد)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

له قوي اردو پرته د افغانستان بقا ناممکنه ده

حکومتي چارواکي په بشپړ باور ادعا کوي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان اردو بشپړ توان لري چې د خپلې خاورې د لویشت لویشت زمکې دفاع وکړي. الله دې وکړي چې همداسې وشي او افغانان د یو داسې غښتلي اردو خاوندان شي چې د نورو له مرستې او لاسنیوي پرته د خپل هېواد د حریمونو د دفاع جوګه وي.

افغانان پوخ یقین لري چې که چېرته د افغانستان پوځ په لازمو وسلو مجهز او سنبال شي؛ نو له څه شک پرته د نړۍ له بل هر پوځ نه زیات له دښمن سره د مقابلې قوي مورال لري، خو یوه پوښتنه چې خلکو ته پیدا کېږي هغه داده چې چارواکو د خپل پوځ دا کمال او د اعاشې اباتې لپاره هغه کومه یقیني بودیجه برابره کړې ده چې د نورو د مرستو له بندیدو وروسته جاري وساتي او پوځ له پښو ونه غورځېږي، له څه شک پرته پوځ وسلو او مناسبې غذا ته ضرورت لري، لکه څنګه چې په رګونو کې د وینې له جریان پرته ژوند ناشونی دی همداسې د پوځ شتون هم له تنخوا، وسلې او نورو پوځي ضروریاتو له مهیا کېدو پرته ناممکن دی، خو پخپله د چارواکو په وینا تراوسه پورې د افغانستان حکومت په اقتصادي لحاظ دومره کمزوری دی چې د نورو له مالي مرستو پرته خپلې اردو ته د دریو میاشتو معاشونو د اجرا کولو توان هم نه لري، که حالت همداسې وي لکه څنګه چې تراوسه دی؛ نو بیا په کوم اعتماد چارواکی په دومره قوي باور دا خبره کوي چې د افغانستان اردو له ۲۰۱۴ کال نه وروسته د خپلې خاورې دفاع پخپله کولی شي؟ هغه اردو چې فی الحال ورته په منظم ډول معاشونه ورکول کېږي تراوسه په دې نه دی توانیدلی چې د هېواد زیاتره سیمې د مخالفینو له وجود نه پاکی کړي، له ۲۰۱۴ کال نه وروسته چې بهرنۍ مرستې هم قطع شي په کومه معجزه د هېواد دفاع کولی شي؟! متل دی چې عسکر پر زمکه په پښو نه؛ بلکې په ګېډه تګ راتګ کوي. کله چې عسکر ته نه تنخوا وي او نه هم په مړه ګېډه ډوډۍ؛ نو له هغه د وطن د دفاع تمه کول د ځان له تېرایستلو پرته بله څه معنا لرلې شي؟!

که چېرته د افغانستان چارواکي واقعاً د خپل هېواد لپاره یوه تکړه اردو جوړول او ساتل غواړي؛ نو دا په تشو لاپو شاپو نه کېږي؛ بلکې دې لپاره پیاوړي اقتصاد او پیاوړې بودیجې ته اړتیا ده، خو له بده مرغه په دې اړه چارواکو لاتراوسه هېڅ نه دي کړي.

ملت له خپلو چارواکو څخه د درواغو وعدې نه؛ بلکې عملي ثبوتونه غواړي، او تر هغې مطمئن کیدلې نه شي تر څو پورې یې چې د اردو لپاره پخپل هېواد کې دننه پر خپلو متو ثابته بودیجه نه وي برابره کړې. ښه به دا وي چې چارواکي د ملت په سترګو کې د خاورې شیندلو پرځای عملي ګامونه پورته کړي او له همدې نن نه د ملي اردو او ملي پولیسو د تنخوا او نورو لازمو اړتیاو لپاره پخپل هېواد کې دننه مالي وسایل برابر کړي تر څو په مستقل ډول دهغوی اړتیاوې پوره او هېواد همیشه لپاره د خپل تکړه پوځ له نعمته برخمن شي، که داسې نه کوي او هسې د خلکو په سترګو کې خاورې اچوي؛ نو دا خبره دې د کاڼي کرښه وګڼي چې له ۲۰۱۴ کال نه وروسته به افغانستان یو ځل بیا د تېرو حکومتونو په سرنوشت اخته کېږي. او ددې ټولو بدو عواقبو ځواب ورکوونکي به همدوی وي.

فدا محمد فایض

بالآخره، راه حل کدام است؟

افغانستان یک کشور دارای تاریخ پنجهزار ساله است. این کشور نسبت موقعیت جیوستراتیژیک خود بارها آماج حملات بیرونی قرار گرفته است؛ ولی وضعیت کنونی با گذشته ها تفاوت آشکار دارد. این بار در حدود پنجاه کشور دنیا در افغانستان حضور نظامی دارند. این کشورها در کنار آن که حضور نظامی دارند، حضور سیاسی و استخباراتی نیز دارند. یکعده کشورها که در کشور ما حضور نظامی نه دارند؛ ولی حضور سیاسی و استخباراتی خود را دارند. بیشتر این کشورها در بین خود رقابت هم دارند؛ بحیث مثال با آنکه تمام کشورهای عضو ناتو زیر چتر این پیمان نظامی به افغانستان آمده اند؛ ولی در اینجا هر کدام اهداف بخصوص خود را دارد.

رقابتهای کشورهای دخیل در قضیهٔ افغانستان موضوع را خیلی پیچیده ساخته است. هکذا زدو بندهای یکعده کشورها مشکل دیگری است. این زدو بندها باعث شده است علاوه برآنکه کشورهای عضو ناتو در افغانستان گم کردهٔ خود را می پالند. به آنعده کشورهای منطقه که با آنها زدو بند دارند نیز فرصت میدهند تا در افغانستان اهداف خود را جستجو کنند. کشورهای منطقه هم میگویند که فلان کشور در افغانستان نباید حضور داشته باشد؛ ولی کشور مشار الیه از حضور آن کشور معترض هراس دارد.

علاوه بر آن متأسفانه افغانها با هم یکدست و یکصدا نیستند. وجود دهها گروه سیاسی و نهادهای مختلف بنام جامعهٔ مدنی و وجود صدها رسانه بخصوص ده ها رسانهٔ تصویری و باز وابستگی بیشتر آنها با یکی از کشورهای جهانی و یا کشورهای منطقه و تمویل شان از ادرس آنان و براه انداختن تبلیغات بنفع یک جناح و برخلاف جناح دیگر به دستور منابع تمویل وضعیت سیاسی کشور را بیش از پیش پیچیده ساخته است. تا جایی که در مورد مسایل ملی هم بین گروههای سیاسی مطرح و دولت یک توافق نظر وجود ندارد؛ مثلاً رئیس جمهور در یک مسأله یکنوع موقفگیری میکند، و ساعتی بعد از آن میزهای گرد رسانه ها به صدا در می آیند و حرفهای رئیس دولت را رد میکنند. اینکه درین موقفگیری ها چه کسی حق بجانب است. حرف جداگانه است و بحث جداگانه می طلبد که من درین نوشتار در آن باره حرفی ندارم: ولی هدفم تباعد مواقف بین دولت و گروه های دیگر سیاسی است. از ملت که اصلاً کسی نمیپرسد، اگر لویه جرگه ها هم فراخوانده میشوند عمدتاً فرمایشی می باشند، افراد و اشخاصی به لویه جرگه فراخوانده میشوند که در دهکدهٔ خود شان هم شاید نه کسی آنها را بشناسد و نه سلامش را علیک بگوید، بناءً مرجعی که واقعاً از یک پشتوانهٔ مردمی و یک مشروعیت نسبی هم برخوردار باشد وجود ندارد؛ مثلاً امضا یا عدم امضای توافقنامهٔ امنیتی با امریکا واقعاً یک مسأله ملی است و آنانی که تاریخ خوانده اند، وابسته نیستند و احساس یک مسؤولیت ملی میکنند اهمیت این موضوع را خوبتر درک کرده میتوانند و خوبتر قضاوت کرده میتوانند و منافع ملی کشور را سنجیده میتوانند که این پیمان اولاً امضا شود یا اصلاً امضا نشود. و ثانیاً اگر امضا میشود تحت چه شرایطی و اگر امضا نمیشود چرا؟

درست است که احزاب و گروه های سیاسی دید گاه های مختلف دارند و هر که از دید گاه خود به یک قضیه نگاه میکند و از همینجاست که نتایج این قضاوت ها با هم اختلاف پیدا میکند؛ ولی منافع ملی، نباید از دیدگاه های سیاسی مختلف، مختلف ارزیابی شود. من باور دارم اگر در لویه جرگه ها از تساهل و اغماض کار گرفته نشود و نمایندگان راستین ملت فراخوانده شوند، حتماً به یک نتیجهٔ واحد می رسند؛ زیرا موضوعات درست مناقشه میشود و هر که دلیل روشن داشت مورد قناعت دیگران میشود.

مشکل دیگری که کمتر مورد توجه قرار میگیرد این است که آنانی که خود را از منسوبین یک گروه و یا حرکت سیاسی میدانند، فکر میکنند که افغانستان یعنی ما و ملت افغانستان یعنی ما، پس همین ما باید حرف بزنیم، همین ما باید تصمیم بگیریم و همین ما باید همه کاره باشیم، در حالی که افغانستان یک کشور تاریخی است و طبق سری نسبی احصائیه مرکزی بیش از بیست و هفت میلیون نفوس درین کشور زندگی میکنند، پس تمام افراد و احاد این ملت در تعیین سرنوشت ملت سهم دارند و حق دارند.

جامعهٔ مدنی به اصطلاح بحیث انباق گروههای سیاسی عرض اندام کرده است. آنان ادعا دارند که باید همه کاره ما باشیم. در حالی که یک چند نفر با هم جمع میشوند و از یک مرجع پروژه یی دریافت میکنند و در یک گوشه شهر دفتری به کرایه میگیرند و مانند مهمان ناخوانده، خود، خود را وارث و صلاحیتدار مسایل مملکتی میدانند، من نمیگویم که آنها هیچگونه حقی ندارند؛ ولی حرف من آن است که آنها نمیتوانند از تمام ملت نمایندگی کنند. احزابی هم هستند که شاید بیش صد، دو صد نفر عضو نداشته باشند؛ ولی احزابی هم هستند افغانستان شمول که پیشینهٔ کم از کم نیم قرنه در عرصهٔ سیاسی کشور دارند و در حل معضلات کشور سهم مهم میتوانند ایفا کنند و حق هم دارند که به اندازه وزن خود در قضایای مهم ملی و مملکتی نقش و حضور داشته باشند، به اصطلاح عامیانهٔ ما در کشور ما خورد و پا و چارک و سیر هم خود را برابر میدانند، بلکه خورد خود را بیشتر از سیر میداند.

متأسفانه وابستگی های بیرونی عده زیادی از نهادهای سیاسی، مدنی وغیره گرهی بر گرههای موجود افزوده است. بیشتر کشورهای مداخله گر از همین راه‌ها در کشور ما مداخله میکنند و حضور خود را حفظ میکنند. یکی از راه یک گروه سیاسی. دیگری از راه جامعهٔ مدنی و دیگری از راه رسانه ها و دولت هم به بهانهٔ آزادی بیان هر کدام را آنقدر آزاد گذاشته است. که اگر درین کشور کسی از دین اسلام هم برگردد شبا شب طیاره یی برایش تدارک دیده میشود و به پایتخت یک کشور بیرونی رسانیده میشود و آنجا بعنوان استقبال برایش اعانه جمع آوری میشود. رئیس دولت از حضور جاسوسان در دستگاه دولت حرف میزند؛ ولی نامی از آن برده شده نمیتواند. البته اشتباه نشود که من شاید مخالف آزادی بیان باشم. بلکی بهترین نمونه ها و نمونه های واقعی آزادی بیان را ما در دین مقدس اسلام می بینیم؛ ولی همه چیز از خود حد و حدودی دارد؛ بحرف شاعر:

هر چه از حدّ بگذرد، رسوا شود

آزادی بیان هم اگر پا از حدود و ثغور خود فراتر گذاشت گپ به رسوایی میکشد. و انارشی ببار میآورد. همین آزادی بیان افسار گسیخته هم افراد ملت را ره گم ساخته است. یکی میگوید این کار شود. دیگری میگوید نشود. یکی میگوید دولت حق بجانب است. دیگری میگوید مخالفین دولت حق بجانب اند.

پس ما یک راه پیش رو داریم و آن اگر نامش را هر چیز میگذارند، یک اجماع ملی است که افراد خبیر، با یک احساس مسؤولیت که ضمناً بتوانند از برخی از افراد ملت خود نماینده گی کرده بتوانند فراخوانده شوند و یک بحث آزاد در مورد مسایل مورد مناقشه و مورد اختلاف صورت بگیرد تا به فیصله یی برسند که ملت از آن فیصله پشتیبانی کند. اگر همین ریسمان کشیهای موجود سیاسی ادامه پیدا کند وضعیت کشور با گذشت هر روز نسبت به گذشته بدتر خواهد شد و کشورهای مداخله گر هم بیش از پیش تشویق و تشجیع خواهند شد که در کشور ما آشکاراتر و با قوت بیشتر از گذشته مداخله کند. پس در صورتی که کشور ما آماج این مداخلات قرار داشته باشد پس چگونه میتوان منتظر بهروزی باشیم.

بحرف اقبال بزرگوار:

گمان مبر که بپایان رسید کار مغان
هزار بادهٔ ناخورده در رگ تاک است

زمان در گردش است، تنها یک حادثه نیست که ما از سر آن عبور کنیم؛ بلکه ما با حوادث گوناگونی مواجه شدنی هستیم و وضع موجوده هم با این حالت پریشانی که داریم با این زودی بپایان نخواهد رسید، فلهذا راه در کار است و نقشه یی در کار است که ما را ازین گرداب حوادث با سلامتی بکشد. این مسؤولیت تنها یک فرد نیست و مسؤولیت یک گروه هم نیست فلهذا همهٔ آنانی که در برابر این وضع نابسامان کشور احساس مسؤولیت میکنند در پی طرحی برآیند که تمام ملت را بر سر یک سفره بنشانند، و در مورد قضایای ملی تصمیم همگانی بگیرد.

محمد خلیل

دا یو څرګند واقعیت دی چې د جلۍ او هلک ترمنځ واده کول د دواړو فطري حق او نبوي سنت دی. که یوی جلۍ ته دهغې په ژوند کې څومره اوچته مرتبه او څومره ډیر مال او دولت ورکړی شي: نو پریشاني یې ترهغه نه لرې کېږي تر څو پورې چې د ژوند ملګری (خاوند) یې نه وي پیدا کړی. همداسې که هلک هم د ژوند له ټولو نعمتونو څخه برخمن وي. خو چې واده یې نه وي کړی هیڅ څه ورته خوند نه ورکوي. واده کول داسې فطري غریزه ده چې د ټولو غریزو پلار ورته ویل شوي دي.

نر او ښځه تر هغه د سکون او ارامۍ خواږه نشي څښلې تر څو پورې چې د حلالې نکاح له لارې پخپلو کې د ژوند ملګری نه وي پیدا کړی. د کائناتو خالق او مالک ذات ددغه مطلب د اهمیت په اړه داسې فرمایلی دي:

ژباړه: او له نښو نه یې یوه دا هم ده چې له تاسې نه یې ستاسې جوړه پیدا کړه چې آرام ورسره وکړئ او ستاسې په منځ کې یې مینه او خواخوږي پیدا کړې ده. په رښتیا چې په دې کې دهغه قوم له پاره چې فکر کوي ډیرې لوی نښې دي. (الروم: ۲۱)

د اسلام سپیڅلی دین د واده د اړیکو د ترسره کولو په موخه د دواړو جنسونو ترمنځ د فطري واقعیتونو په رڼا کې هر څه څرګند کړي دي او هیڅ ډول ابهام او شک یې نه دی پرېښی. کله چې هلک او جلۍ د ځوانۍ عمر ته ورسېږي: نو دهغوی لومړی ترجیح دا وي چې د نکاح له لارې د ژوند ملګری غوره کړي. واده په حقیقت کې د ښځې او خاوند ترمنځ د ژوند تر وروستیو سلګیو پورې د سکون او آرام ژوند تېرولو تړون دی چې له نکاح نه وروسته عملي بڼه خپلوي: نو ځکه د اسلام په سپیڅلي شریعت کې له واده نه وړاندې هک او جلۍ ته یو څو مهمې لارښوونې کړې دي چې دهغوی په رعایت کولو سره دواړو ته د ژوند ښه ملګری په لاس ورځي.

لومړی دا چې هلک او جلۍ دواړو ته دا حق ورکول شوی چې له خپلې خوښې سره سم یو څوک د خپل ژوند ملګری غوره کړي. که چېرته هلک او جلۍ ته د واده په مسئله کې د خپلې خوښې موقع ورنکړی شي او کورنۍ یې په زوره د دواړو واده وکړي: نو له واده وروسته د دواړو ترمنځ اړیکې ترینګلې او له مینې نه خالي وي. همداراز ډیر ځلې داسې هم کېږي چې د هلک او جلۍ واده دهغوی په غیابت کې ترسره کېږي. نه هلک د جلۍ په اړه معلومات ترلاسه کړی وي او نه هم جلۍ د هلک په اړه. ان تر دې چې د یو بل له عمرونو نه هم خبر نه وي. په داسې حال کې چې د اسلام په مقدس دین کې جلۍ او هلک دواړو ته بشپړ واک ورکول شوی چې د خپل ژوند د ملګري په انتخاباتو کې پوره غور وکړي او دهغه عمر. اخلاق. دینداري. ښکلا. مالي حالت او صحت په اړه معلومات ترلاسه کړي. لکه چې لاندې واقعه په همدې واقعیت ښه دلالت کوي،

روایت دی چې یو چا د خپل لور نکاح له یو مالدار شخص سره وکړه: لیکن جلۍ هغه نه خوښولو. هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زما پلار زما نکاح له خپل یو مالداره وراره سره تړلی خو زه ورباندې خوښه نه یم. محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: که ته په دې نکاح خوشحاله نه یې نو بیا ته ازاده یې. هغې وویل: ((قد اجزت ماصنع ابی ولکن اردت ان تعلم النساء ان لیس للاباء من الامر شیئ.)) (مسند احمد ج ۶ ص ۱۳۶. ابن ماجه. ابواب النکاح باب من زوج ابنته وهی کارهة)

ژباړه: زما پلار چې کوم کام پورته کړی هغه زه منم لیکن زه غواړم چې ښځو ته دا څرګند شي چې دهغوی له خوښې پرته دهغوی پلاران چاته په نکاح نشي ورکولی.

حدیث شریف کې راځي چې حضرت مغیره بن شعبه (رض) یوې ښځې ته د واده پیغام واستاو او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د خپل ددغه کار خبر یې ورته ورکړ: نو هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته یو ځل لاړ شه او پخپلو سترګو وګوره ځکه چې دا ستاسو د دواړو ترمنځ د مینې په پیدا کولو کې مناسب رول لري. (ترمذی)

همداراز له حضرت ابو هریره (رض) نه روایت دی چې زه د محمد صلی الله علیه وسلم په خوا کې ناست وم. په دې وخت یو سړی ورته راغی او ویې ویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زه د انصارو له فلانکۍ ښځې سره واده کول غواړم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ترینه پوښتنه وکړه چې ایا هغه دی لیدلې ده؟ ویې ویل: نه! نو هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: زه لاړ شه او ویې ګوره. (مسلم)

له محمد بن سلمه رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو اصحابي ماته وویل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې کله الله تعالی دچا په زړه کې له کومې ښځې سره د نکاح کولو فکر پیدا کړي نو د نکاح په نیت هغې ته په کتلو کې څه حرج نشته. (ابن ماجه)

که څه هم په دې اړه په صحاح سته کې ګڼ احادیث موجود دي خو پورتني څو صحیح احادیث د محمد صلی الله علیه وسلم هر رښتوني متبع او فرمانبردار امتي لپاره کافي او شافي دي. هر مسلمان ته پکار ده چې د خپلو اولادو د واده په وخت کې د اسلام دغه طلایي لارښوونې له پامه ونه غورځوي. هغوی ته بشپړ واک ورکړي چې د ژوند د ملګري په انتخابولو کې ښه غور او فکر وکړي او دهغوی له خوښې او اجازې پرته یې واده ونکړي.

د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم د کامیابې واده په اړه خپل امت ته یو عمومي پیغام پرېښی دی او فرمایلي دي چې هر څوک واده کول غواړي هغه دې د جلۍ دینداري او تقوی ته لومړیتوب ورکړي نه دهغې ښایست. مال او حسب و نسب ته. (بخاري. مسلم)

همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم په یو بل حدیث کې لارښوونه کړې چې: تاسې له ښځو سره یوازې دهغې د حسن او ښکلا په خاطر واده مه کوئ. کیدای شي دهغې حسن هغه تباه کړي. او نه دهغې د مال په خاطر ورسره واده وکړئ: کیدای شي دهغې مال هغه ستاسې په نافرماني کې اخته کړي. بلکې تاسې له هغې سره دهغې د دینداری له کبله واده وکړئ: ځیر غوړې توره دینداره ښځه د الله په وړاندې له هغې مالدارې ښځې څخه غوره ده چې دینداره نه وي. (عبید بن حمید)

همداراز محمد صلی الله علیه وسلم په یو بل حدیث شریف کې فرمایلي دي چې هر چا له یوې ښځې سره دهغې د مال په وجه نکاح وکړ. نو الله تعالی دهغه په غربت کې نور هم زیات والی راولي. او چا چې له یوې ښځې سره دهغې د حسب او نسب په خاطر واده وکړه: نو الله تعالی دهغه ذلت نور هم زیاتوي او چا چې له کومې ښځې سره د خپل نظر د قابو کولو او د خپل د شرم ځای د محفوظ ساتلو او یا د صله رحمۍ له کبله واده وکړه الله تعالی دهغې واده د دواړو لپاره د برکت باعث ګرځوي. (ابن حبان)

ددغه حدیث مطلب هرګز دا نه دی چې ګنې اسلام د حسن او ښکلا مخالف دی. بلکې مطلب یې دا دی چې کله هم یو څوک واده کول غواړي: نو هغه دې صرف ښکلا. مال او حسب او نسب ته لومړیتوب ورنکړي. بلکې نورو اوچتو انساني او اخلاقي صفاتو ته دې هم وګوري. که په یو چا کې دا څلور واړه صفات موجود وي: نو ډېره ښه خو که د دینداری او تقوی له اوچت صفت نه خالي وي: نو بیا د حسن. مال او حسب او نسب پرځای دې هغه څوک د ژوند ملګری جوړه کړي چې دینداره او تقوا داره وي. ځکه چې په انسان کې تر ټولو غوره او مهم صفت تقوا ده لکه چې الله تعالی پخپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې فرمایلي دي: ((ان اکرمکم عندالله اتقاکم)) بېشکه په تاسو کې د الله په نزد هغه څوک زیات عزت من دی چې تقوا دار وي.

واده څه تجارت او دکانداري نه ده چې هغې لپاره موقع او فرصت ولټول شي او نه د کورنۍ تفاخر کوم ځیز دی چې هغې لپاره ښځه د خپل حسن او ښکلا نمایش وکړي: بلکې واده دهغو ګڼو ټولنیزو عناصرو ګډ امتزاج دی چې هلته دیني او اخلاقي اړخونو ته لومړیتوب ورکول تر ټولو اړین دي. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته لارښوونه کړې چې کله هم د واده کولو اراده وکړئ: نو له دینداری ښځې سره واده وکړئ او زما دا خبره د خپل خادر په پیسکه کې کلکه وتړئ. (بخاري. مسلم)

له پورتنیو لارښوونو څخه لاندې څو خبرې ترلاسه شوې:

۱- هلک او جلۍ دواړه حق لري چې پخپلو کې له یو بل سره له نکاح نه مخکې د خپل ژوند د ملګري په غوره کولو کې ښه غور او فکر وکړي.

۲- هېڅوک حق نه لري چې دهغوی له خوښې پرته یې په زوره واده کړي.

۳- که امکان وي جلۍ او هلک کولی شي د خپلو کورنیو په موجودګۍ کې یو بل وویني: خو په خلوت کې نشي لیدلی.

۴- د واده په وخت کې پکار دي چې جلۍ او هلک دواړه د یو چا دینداري او تقوا ته لومړیتوب ورکړي. نه صرف ښکلا. مال او حسب و نسب ته.

۵- څرنګه چې هلک د جلۍ د لیدلو او دهغې د غوره کولو حق لري همداسې جلۍ هم حق لري چې له هلک سره د خپلې کورنۍ په موجوده ګۍ کې وګوري او دهغه په غوره کولو کې غور او فکر وکړي.

هیله ده چې د هلک او جلۍ کورنۍ د خپلو اولادونو په واده کې دا پورتنۍ دیني لارښوونې په نظر کې ونیسي تر څو له واده نه وروسته دهغوی ژوند په ډېر سکون او آرامۍ سره تیر. او له ګڼو جنجالونو څخه په امن کې پاتې شي.

د امنیتي تړون پر سر ناندرې

عبیدالله صافي

د تېرې چهارشنبې په ورځ د لویې څارنوالۍ ویندوی بصیر عزیزي رویټرز ته وویل چې لویه څارنوالي له هغو رسنیو تحقیقات کوي چې په امنیتي تړون کې د امریکا په ګټه تبلیغات کوي.

که چېرته له سیاسي لوبو څخه تېر شو او دا خبره د عدالت او انصاف له مخې وڅیړو: نو لویه څارنوالي باید له رسنیو وړاندې د عنعنوي لویې جرګې له غړو څخه تحقیقات پیل کړي: ځکه چې له امریکا سره د امنیتي سند د لاسلیکولو تر ټولو لومړی غوښتنه عنعنوي لویې جرګې کړې ده. نه رسنیو. دا جرګه کرزي صیب د خپل قانوني صلاحیت له مخې غوښتې وه او دهغوی په وړاندې یې دا خبره ایښې وه چې آیا د افغانستان حکومت له امریکا سره امنیتي سند لاس لیک کړي که نه؟ د عنعنوي لویې جرګې ګډونوالو د دریو ورځو مسلسل بحث او مباحثې او غورو فکر وروسته له امریکا سره د امنیتي سند د لاسلیکولو په حق کې رأی ورکړی وه. خو دا چې ولسمشر د څو نویو شرایطو په وړاندې کولو سره د امنیتي سند له لاسلیکولو څخه انکار کړی د افغانستان وګړو ته یې ډول ډول اندیښنې او پوښتنې راولاړې کړې دي. په دې اړه چې رسنۍ او د افغانستان هر وګړی هر څه وایي حق په جانب دي ځکه چې د عنعنوي لوی جرګې راغوښتل او بیا دهغوی غوښتنو او سپارښتونو ته اعتنا نه کول خامخا ولس ته دا اندیښنې او پوښتنې پیدا کوي چې که ښاغلی کرزي صاحب له امریکا سره د امنیتي سند د لاسلیکولو اراده نه درلوده: نو بیا د عنعنوي لویې جرګې راغوښتل او له هغوی نه د سلا او مشورې غوښتنه کول د میلیونو ډالرو له تاوان او د اندېښنو د راپیدا کولو پرته نوره څه ګټه درلوده؟! همداراز د خلکو په اذهانو کې دا پوښتنې هم طبعي دي چې کله عنعنوي لوی جرګې ته له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه له وړاندې نه جوړه شوې مسوده سپارل کیده تر څو دهغې په رڼا کې خپله فیصله صادره کړي. په هغه وخت کې داسې کوم ممانعت موجود و چې ښاغلي کرزي دغه وروستي نوي دوه شرطونه هم په هغې کې درج کړي وای؟! دا چې د عنعنوي لویې جرګې له فیصلې وروسته ښاغلي کرزي دوه نوي شرطونه راوړاندې کړل: نو رسنیو او هېوادوالو ته د پوښتنو دروازه پخپله ولسمشر کرزي خلاصه کړه:

لومړی- باید ولسمشر کرزي د افغانستان وګړو ته ځواب ووایي چې هغه عنعنوي لوی جرګې ته په وړاندې شوې مسوده کې خپل هغه وروستي شرایط ولې نه وو درج کړي چې د جرګې له پریکړې نه وروسته یې راوړاندې کړل؟!

دویم- ښاغلي کرزي دی په دې اړه هم ولس ته وضاحت ورکړي چې ایا دداسې عمل په ترسره کولو سره هغه د امنیتي تړون د لاسلیکولو په اړه خپل ځان پخپله کم را نه وړ؟

څرګنده خبره ده چې د ملامتۍ ګوته لومړی پخپله ولسمشر ته نیول کېږي: ځکه چې عنعنوي لویې جرګې یوه فیصله وکړه او ښاغلي کرزي د نویو شرطونو په وړاندې کولو سره بله فیصله. له دغو دواړو فیصلو څخه د نړۍ په خلکو کې دا تأثر پیدا شوه چې ګنې افغانان له امریکا سره د امنیتي تړون په حق کې دي خو یوازې کرزی دی چې د خپل ولس د خوښۍ په خلاف ګامونه پورته کوي: نو ځکه د کرزي غوښتنې څه اهمیت نلري.

له څه شک پرته ولسمشر کرزی چې له کوم عجلت او وارخطایۍ څخه کار واخست او عنعنوي لوی جرګې ته یې ناقصه مسوده وسپارله او پر همغه مسوده له لوی جرګې نه د امنیتي تړون د لاسلیک او نه لاسلیک په اړه مشوره وغوښته ددې ټولو پړه د ښاغلي کرزي او دهغه د ټیم پر غاړه ده. ځکه چې ښاغلي کرزي هغه وخت هم کولی شول چې دغه وروستي شرایط په مسوده کې ځای پرځای کړي وای او عنعنوي لویې جرګې پر هغو هم د تایید مهر ایښې وای: خو چې کرزي صیب داسې ونکړل او د عنعنوي لویې جرګې له حتمي پریکړې وروسته په همغه تالار کې خپل دوه نور شرایط هم وړاندې کړل دا نو دا مانا لري چې کاسې لاندې نیمه کاسه ضرور شته. لهذا په دې اړه چې رسنۍ څومره څه لیکي او سیاسي شنونکي څومره تبصرې او شننې کوي ددې بنسټ ورته ښاغلي کرزي پخپله ایښې دی.

لویې څارنوالي که له ښاغلي کرزي او عنعنوي لویې جرګې څخه د پوښتنې قانوني حق نه لري چې ولې یې داسې وکړل: نو رسنۍ دی هم په قراره پرېږدي چې د ولس غبرګ منعکس کړي او په دې اړه د خلکو مثبت او منفي وړاندیزونه خپره کړي. ځکه چې د رسنیو رسالت دا دی چې د موضوع د لاروښانتیا او د ولس د اندېښنو د لرې کولو په خاطر خپل مافی الضمیر ښکاره کړي. نه ښایي ددغې سالمې او قانوني سلسلې مخه ونیول شي: بلکې د نظر خاوندانو ته دې بشپړه آزادي ورکړل شي چې د خپل هېواد او ولس په ګټه خپل نظریات او مشورې وړاندې کړي. د ښاغلي کرزي همدا سهوه بس ده چې په لومړي سر کې له امریکا سره د امنیتي تړون په مسوده کې د هېواد له سیاسي مشرانو او قانون پوهانو سره د سلامشورې کولو پرته نیمګړې مسوده عنعنوي جرګې ته وړاندې کړه او پر همغه مسوده د جرګې له فیصلې وروسته د نویو شرایطو په وړاندې کولو سره هېوادوالو ته ډول ډول اندېښنې راولاړې کړې. که چېرته په دې اړه رسنۍ د څه ویلو او لیکلو څخه هم بندې کړی شي: نو دا به یوه بله غټه سهوه وي ځکه چې په داسې کولو سره مشکلات نور هم زیاتېږي او د خلکو د اندېښنو د لېرې کېدو پرځای نور هم خپلې جرړې مضبوطوي. خو که برعکس په دې اړه په رسنیو کې بحث او مباحثه دوام ومومي. او ددې موضوع ټول اړخونه وڅېړل شي نو قوي امکان شته چې د ملت په ګټه دریځ لروونکی لورې ښه واضح او د ولس د زیات ملاتړ په ترلاسه کولو سره په یو قوي موقف کې واقع شي.

د دې رنګه مو ټسي خوره امت ګرځولي ياست چي پر خلکو ګواهان اوسي
شهادت (اونیزه)
د حزب اسلامي افغانستان سياسي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د ولسمشر کرزي د څرګندونو په اړه د نړیوالو ورځپاڼو مقالې

کرسچین ساینس مانیتور ورځپاڼه، کرزی وایي، امریکا دې له طالبانو سره خبرې پیل کړي که له افغانستانه دې ووځي، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي:
د افغان ولسمشر له دغو څرګندونو چې د شپې په ورخ یې وکړې، داسې ښکاري چې نوموړی په خپل دریځ ټینګ ولاړ دی.
کرسچین ساینس مانیتور لیکي، ولسمشر کرزي ټینګار وکړ چې له طالبانو سره د سولې د خبرو مخ ته وړل ځکه مهم دي چې دا یقیني شي چې افغانستان به له یوه کمزوري حکومت سره په میدان نه پاتې کیږي.
د کرزي په خبره د دغه امنیتي تړون په لاسلیک کولو سره غواړو دا ډاډ حاصل کړو چې افغانستان د قدرت په مرکزونو نه ویشل کیږي.
د ورځپاڼې په وینا اکثره دیپلوماتان اوس په دې توافق لري چې کرزی به دغه دوه اړخیز امنیتي تړون چې له مخې یې به افغانستان کې له ۲۰۱۴ کال وروسته د امریکا پوځي حضور ته اجازه ورکول کیږي، لاسلیک نه کړي.
متحدو ایالتونو ګواښ کړی چې که دغه تړون په مناسب وخت نه لاسلیک کیږي، خپل ټول عسکر به له افغانستانه وباسي.
د ورځپاڼې په وینا هرڅومره زیات چې خلک دا خبره راپورته کوي چې شاید دغه تړون د کرزي ځای ناستی لاسلیک کړي هموغره کرزی له ستر ګو لویږي.
د یوه دیپلومات په خبره موږ ته یکار ده چې پر راتلونکي شخص پانګونه وکړو.
نیویارک ټایمز ورځپاڼې، د امریکا د هوایي حملې په اړه نادرستو ادعاوو د کرزي په اړه شکونه نور هم زیات کړي، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکلي، طالبان معمولا د وراتو کورونو، وینو لړلي جسدونو او د جنازو د ویرجنو مراسمو په اړه ویډیو ګانې، د اسنادو او شواهدو په توګه خپروي ترڅو د امریکایي ځواکونو له خوا د ترسره شویو عملیاتو زیانونه وښیي.
نیویارک ټایمز لیکي:
دا ټول د خفګان وړ دي خو د اصلیت په اړه یې هیڅ ثبوت وجود نه لري.
ورځپاڼه لیکي، دا ځل د افغانستان حکومت هم دغه کار وکړ او پارونکي مواد یې د شواهدو په توګه وړاندې کړل یانې د پروان ولایت په وازغر کلي د جنورۍ د پنځلسمې د هوایي حملې په اړه د یوه حکومتي کمیسیون د تحقیقاتو نتیجه.
نیویارک ټایمز لیکي، داسې ښکاري چې یو شمیر افغان چارواکي له ټاکلي حدودو تیر شوي چې دې کار یې لویدیځ چارواکي متاثر کړي دي.
د ورځپاڼې په وینا دغو چارواکو خپني شواهد په جعلي توګه وړاندې کړي چې اصلیت یې نه شي تاییدلی.
نیویارک ټایمز لیکي، د ورځپاڼې له خوا په خبرتو کې دا څرګنده شوه چې د دغو موادو ډیر یې تیره اونۍ د طالبانو په انټرنټ پاڼه کې هم خپاره شوي و.
ورځپاڼه وړاندې لیکي:
یو له تصویرونو د هغو قربانیانو د جنازې په مراسمو پورې اړه لري چې په ۲۰۰۹ کال په شمال کې د ناټو په هوایي بمباري وژل شوي وچې د ملکي تلفاتو شمیر یې اویا تنو ته رسیده.
ورځپاڼه وایي، تیره اونۍ د کرزي له دفتره د تصویرونو او ویډیو ګانو خپریدل د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکو کې نوی کړکیچ په ډاګه کړ.
نیویارک ټایمز لیکي، د پروان د هوایي عملیاتو په اړه حکومتي کمیسیون وویل چې په دې پیښه کې لږ تر لږه ۱۴ ولسي وګړي وژل شوي دي.

له امریکا سره د افغانستان په باب ...

ځانګړی اهمیت لري او شاید پر داسې کار لاس پورې نه کړي چې د اسلام اباد ستراتیژیک موقعیت له لاسه ورکړي.
د پاکستان او امریکا ترمنځ ستراتیژیک مذاکرات په ۲۰۱۱ م کال په سر کې د سي ای اي د جاسوس (ریمنډ ډیویس) له خوا په لاهور ښار کې د دریو پاکستانیانو له وژلو، بیا د اسامه بن لادن له پیښې او په پای کې د ناټو ځواکونو له خوا د پنځلس پاکستاني پوځیانو له وژنې وروسته وځنډیدې.

از میان ۸۸ زندانی ۳۷ تن شان ...

که بدبختانه در مطبوعات خطرناک عنوان شده است امنیت ملی هم در این مورد تحقیق کرد اما در مورد ۴۵ تن از آنان حتی ارگان های کشفی افغانستان هم چیزی پیدا نکرده اند.
یک یا دو روز پیش ما توانستیم که سرنوشت دوسیه های ۳۷ زندانی را معلوم کنیم و این دوسیه ها بخاطر طی مراحل به دیگر ارگان ها فرستاده شده که امکان دارد پس از طی مراحل اداری ما فیصله خود را تطبیق کنیم."
آقای دادرس همچنان گفت، طوری که سرنوشت این ۳۷ زندانی روشن شد، در باره متباقی این زندانیان هم تصمیم گرفته می شود.
دادرس در ادامه می گوید که هر گاه در مورد این زندانیان شواهد تازه به دست بیاید در باره رهایی آنها تجدید نظر صورت خواهد گرفت.
در عین حال نیرو های آیساف به رهبری ناتو با انتشار خبرنامه، نسبت به رهایی این زندانیان از زندان بگرام ابراز نگرانی کرده اند.
در خبرنامه آمده است که از میان ۸۸ زندانی ۴۰ درصد از آنان در حملات علیه نیرو های افغان و مردم ملکی در افغانستان دست داشته که در نتیجه، آن ۵۷ تن کشته و یا زخمی شده اند.
منبع می افزاید که ۳۰ درصد از این زندانیان بر نیرو های ایتلاف بین المللی حمله کرده اند که منجر به کشته و یا زخمی شدن ۶۰ تن آنان شده اند.
کمیته، رسیده گی به دوسیه های زندانیان بگرام به اساس فرمان رییس جمهور کرزی در آغاز سال جاری شمسی پس از سپردن مسوولیت این زندان به حکومت افغانستان ایجاد شده است.
این کمیته نزدیک به یک ماه قبل اعلام کرد که بعد از نُه ماه بررسی در حدود ۵۵۰ زندانی را از قید آزاد ساخته است.
اما مقامات امریکایی از این میان ۸۸ زندانی را خطرناک و تهدید برای امنیت شمرده و از حکومت افغانستان خواستار تحقیقات بیشتر در این زمینه شدند.
در همین حال رییس جمهور کرزی به روز شنبه در یک نشست خبری گفت که زندان بگرام به فابریکه طالب سازی مبدل شده، اهانت و شکنجه، زندانیان توسط سربازان امریکایی آنان را از دولت شان متنفر ساخته است.
رییس جمهور می گوید که در میان زندانیان بگرام مجرمین هم وجود دارند اما اکثر آنان بی گناه اند.
با این حال مسوولان کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان می گویند که اگر این زندانیان بی گناه هم باشند، چنین کمیته های صلاحیت تصمیم گیری در این باره را ندارند.
رفیع الله بیدار سخنگوی این کمیسیون در مورد گفت:
"من فکر می کنم که کمیسیون ها هر قدر که بلند رتبه و با صلاحیت هم باشند ما باید در این گونه رهایی ها نظام قضایی کشور را مقدم شمرده و به آن احترام داشته باشیم.
هر گاه در دوسیه های برخی از زندانیان شهود و یا جرمی دیده نمی شود این دوسیه ها هم باید به نظام قضایی کشور ارجاع شوند."
آقای بیدار می گوید که صرف از طریق نهاد های عدلی و قضایی عدالت تامین شده می تواند.
پیش از این هم تعدادی از نهاد های مدنی از حکومت افغانستان خواسته اند که دوسیه های زندانیان بگرام را به مراجع عدلی و قضایی راجع سازد.
اما مقامات حکومت افغانستان می گویند که کمیته بررسی دوسیه های زندانیان بگرام در تفاهم با مقامات امریکایی ایجاد شده است.

امضای توافقنامه امنیتی برای جلب ...

قناعت بخش نبود.
محمد قربان حقجو رییس هیأت عامل اتاق تجارت و صنایع به روز یکشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که آنان انتظار داشتند رییس جمهور یک تاریخ مشخص را برای امضای توافقنامه، امنیتی کابل و واشنگتن امضا کند اما چنین نشد.
مسوولان اتاق تجارت و صنایع افغانستان در ملاقات با رییس جمهور کرزی امضای توافقنامه امنیتی و دفاعی با امریکا را برای تحکیم ثبات اقتصادی و جلب سرمایه گذاری ها در کشور مهم خوانده اند.
به گفته، آقای حقجو اگر این توافقنامه امضا نشود کمک های بین المللی به افغانستان کاهش یافته، مردم امیدواری های شان نسبت به آینده کشور را از دست می دهند، جنگ های داخلی در کشور آغاز می گردند و انتخابات آینده ریاست جمهوری هم با تقلب همراه خواهد بود.
اما در خبرنامه ریاست جمهوری آمده است که رییس جمهور کرزی در صحبت با مسوولان اتاق تجارت و صنایع نگرانی ها در خصوص فرار سرمایه ها از کشور را تبلیغات منفی خارجیان عنوان کرده است.
رییس جمهور کرزی گفته است که اگر امریکا نتواند پروسه صلح را در افغانستان عملاً آغاز کند در غیر آن باید بگوید که چه مشکلی در این زمینه وجود دارد.
در این حال وزیر مالیه افغانستان امضای توافقنامه امنیتی و دفاعی با امریکا را مهم خوانده و می گوید که حضور نیرو های امریکایی در کشور تضمینی برای کمک های آنان به افغانستان است.
این در حالی است که پیش از این نیز برخی از آگاهان امور اقتصادی روی امضای هر چی زود تر توافقنامه امنیتی و دفاعی با امریکا تاکید نموده و آن را برای آینده، افغانستان مهم خوانده اند.
آنان نگران اند که اگر این توافقنامه امضا نشود این مسأله سبب فرار سرمایه ها از افغانستان خواهد شد و سرمایه گذاران بین المللی هم علاقه برای سرمایه گذاری در این کشور نشان نخواهند داد.

که امریکا له افغانستانه ووځي ...

په ډاګه کړې چې که د کافي امنیتي ظرفیت د نشتوالي له کبله ښادي اوې د امریکا د استخباراتي اداري له واکه ووځي نو په سیمه کې به چې اشاره یې پاکستان او هند ته شوي د اتمي کړکیچ د رامنځته کېدو خطر هم ورسره ډیر شي.
سرچینې زیاته کړې چې له افغان حکومت سره د امنیتي تړون لاسلیکېدو کې د پاتې راتلو له ویرې د امریکا د استخباراتي ادارو د ژورو اندېښنو له کبله د امریکا جمهور رئیس بارک اوباما د پوځ، استخباراتو او سیاسي چارو د کارپوهانو یوه ډله په دې ګمارلې چې په سیمې کې دې د متبادلو اډو په لټه کې شي خو ظاهرا دغه متبادلې تر ټولو نږدې اډې د ډیورنډ غرنیو سیمو ته د بې پیلوټه الوتکو لپاره خورا اړینې دي. په دغو سیمو کې لا هم د القاعده مرکزي قومانده ځای پر ځای ده.

د امنیتي ځواکونو د موټرو...

د نظامي چارو کارپوهان ټینګار کوي چې؛ له تدابیرو سربېره باید له انتحاري حملو مخکې د خوندیتوب لپاره کشفي او استخباراتي فعالیتو چټک او ګړندي کړای شي.
د یکشنبې په ورځ د کابل په اتمې ناحیې کې د ملي دفاع وزارت د موټرو په سېرلی انتحاري حمله کې د ملکیانو په ګډون څلور تنه ووژل شول او ۲۲ تنه نور ټپیان شول.
په ښارونو کې د افغان امنیتي ځواکونو د عملیې په موټرو باندې انتحاري حملې او بمي چاودنې په تیرو څو کلونو کې د وسله والو مخالفانو د جنګي تکتیک په توګه پاتې شوي.
د ملي دفاع وزارت چارواکي وايي چې؛ د دې حملو د مخنیوي لپاره یې ځانګړې تدابیر پلان کړي او په بلې کېدو سره به تر ډېره د انتحاري حملو زیانونه راکم شي.
د دې وزارت مرستیال ویاند جنرال دولت وزیري د دوشنبې په ورځ ازادۍ راډیو ته وویل، د عملیې د موټرو د تګ او راتګ د لارو او وخت د بدلون په ګډون بېلابېل تدابیر په پام کې نیول شوي دي:
"موږ داسې شرایط اماده کړي چې د ملي اردو منسوبین خپلو قطعاتو ته راځي او هغه چې د عملیې په موټرو کې راځي موږ یې امنیت نیسو، دوي خپلو قطعاتو ته په بېلابېلو لارو راځي او وخت یې ته یې هم تغییر ورکوو، د عملیې په ټولو موټر کې د هغوی د امنیت لپاره یو تن وسله وال کس موجود وي، هرڅوک چې موټر ته پورته کیږي کارت یې کنټرول کیږي."
ښاغلي وزیري وویل، پخوا تردې اکثره دا رنګه حملې شنډې شوي او وسلوال مخالفینو په کمو مواردو کې هدف ته رسیدلي.
د دغو تدابیرو له نیول کېدو څخه په داسې حال کې خبر ورکول کیږي چې د یکشنبې په ورځ د کابل د اتمې ناحیې اړوند د کارتې نو سیمه کې د ملي دفاع وزارت د هوایي ځواک د منسوبینو په موټر انتحاري حمله کې د ملي اردو دوه منسوبین ووژل شول او شل نور ټپیان شول.
په دې حملې کې دوه ملکیان هم وژل شوي او دوه نور ټپیان دي.
له دې نه څو ورځې وړاندې د کابل ښار د یکه توت په سیمه کې هم کورنیو چارو وزارت د سېرلي په بس موټر په انتحاري حمله کې پولیسو او ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واوښتله.
دا رنګه حملې په کابل او نورو ښارونو کې په تیرو څو کلونو کې تکرار شوي دي.
نظامي چارو یو شمیر کارپوهان د امنیتي ځواکونو د سېرلیو په موټرو باندې انتحاري حملې د وسله والو مخالفانو کمزوري ګڼي.
نظامي کارپوه جنرال امرالله امان ملي دفاع وزارت نوي امنیتي تدابیرو ګټور ګڼي، خو ټینګار کوي چې د انتحاري حملو د مخنیوي لپاره باید کشفي ارګانونو پیاوړې شي:
"امنیتي ځواکونو باید په کشفي او استخباراتي ارګانونه پیاوړي کړي، کشفي برخې ته زیات پام وکړي او هغوي ته زیات امکانات په واک کې ورکړي او هم یې مصارف ورته زیات کړای شي د کشفي او امنیتي پلانونه او تدابیر غښتلي کړای شي استخباراتي پلان باید دقیق وي."
امریکا د پوځ یوه جګپوړي مقام په افغانستان کې د طالبانو له خوا د خونړیو حملو د زیاتېدو اټکل کړی و.
د ایساف د ګډې قرارګاه مشر ډګرجنرال ماریک میلي په دې وروستیو کې وویل، پرخان وژونکو حملو، د سیاستوالو پر وژنو او د سړک د غاړې بمي چاودنو د طالبانو اتکا شېې چې دوي د جګړې په ډګر کې د افغان او نړیوالو ځواکونو په وړاندې د مقابلې زور نه لري.
خو له ملکیانو سربیره د امنیتي کسانو اکثره تلفات د وسلوالو مخالفینو د ځان وژونکو حملو او چاودنو له امله رامنځ ته کیږي.